By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar :ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار


۲۹ اکتوبر ۲۰۱۵

# ملـي ګـټـې: د يـو ژور بـحـث لپاره

۱

*National Interests: For A Thorough Discussion*

پخوا به ملي ګټـو ته د شهزاده اراده ، سلطاني يا شاهي ګټي ويل کيدلي تر هغه مهاله چي ملي دولتـونه رامنځته شول او سياسي پولي حتمي شولي. يعني ملي ګټي نشته، خو دا چي ملي دولتونه رامنځته شوي وي، او ملي دولتونه سياسي پولو ته اړتيا لري. برتانوي حقوقپوه او فيلسوف جيرومي بينتم (۱۷۴۸ تر ۱۸۳۲) ته د «بين المللي حقوقو» پلارروپل کيږي، په دي دليل چي هغه د «بين المللي» (اينټر نيشنل)او« کـڼ کلتوري»(ملټايکلچرَل) ټکي راوويستل. د ملي ګټو موضوع د بين المللي چارو په ځيرنه کي لـه اوږدي مودي راهيسي غټ رول لوبولی دی او اوس مهال هم په بين المللي سياسي- اقتصادي نظام کي زيات اهميت لري. هانس يواخيم مارګينټَـو (۱۹۰۴ تر ۱۹۸۰) په جرمني کي زيږيدلی و او هلته يي د ډاکترۍ درجه او وروسته يي په ژنيف کي د پوهاندۍ درجه (هابيليټيشن) لاسته راوړې. د جرمني په پوهنتونونو کي په تدريس بوخت و. خو له ۱۹۳۳ راهيسي چي د ادولف هيټلـر قدرت مخ په زياتيدلو شو، مارګينټَو په ۱۹۳۷ کي امريکي ته کډه وکړه. هغه ويلي وو چي د يو هيواد ملي ګټي بايد د خپلو ظرفيتونو سره متناسبي وي: ورروسته لـه دوهمي نـړۍ والي جګړې د برتـانـيي او فرانـسي هڅي چي ځانونه زبـرځواک وګڼي،د هـغـوی د ظـرفيتونو(اټومي، هوايي، بحري، ځمکنـي او اقتصادي) سـره متناسب نـه دي. د ملي ګټو په څنګ کي بين المللي سازمانونه هم شته چي عمليات يي په ملي ګټو نه، بلکي په بين المللي ګټـو راڅرخي: لکه يونيسکو، بين المللي سره مياشت، د بين الـدول جنګونو د حل لپاره د ژنيف تـړونونه، د دريمي نـړۍ د پرمختـګ لپاره نړيوال بـانـک. هريو مثال ښيئ چي بين المللي سازمانونه دولتونه تولنيز کوي ، يعني ديته يي رابلي چي نوي سياسي هدفونه او ارزښتونه ومني: ولولی لاندي کتاب

Martha Finnemore, National Interests in Intenational Society. Cornell Press, 1996.

«پولادي امير» عبدالرحمن خان (۱۸۸۰ تر ۱۹۰۱) لومړی واکمن و چي د کلک مرکزي ملي دولت جوړولو ته يي د ډيورنډ د توافقنامي په بيه خوله ګوړې ګوړې کيدله. هغه په دې پوهيده چي کلک مرکزي ملي دولت بايد سياسي

پولې ولري. خو په پټ ډول يې د لـر او بـرافغانستان ديني عالمان او قـومي مشران ديته هڅول چې ليکه و نه مني او د انګريزانو سره دې په جګړه کې اخته وي او له دې لارې دې د تحميل شوې ليکې واقعيت ړنګ کړي. د کوچـنيـو هيوادونو ملي ګټې لـږوډيـر ساده او محدودې وي. په مقابل کې د غـټـو او قـدرتمنـو هيوادونو ملي ګټې ډيرې او پـيچلې وي. افغانستان او پاکستان اسلامي هيوادونه ګڼل کيـږي. خو دواړه اسلامي ګاونـډيان د استعماري ډيورنـډ لاين په سر د يوبل سره ملي ټکر لري. ملي ګـټې په کـلـک ايډيالوجيک نظامونـو کې هم شـتـه وي. د افغانستان طالبانو به د ۲۰۰۱ له اکتوبر راهيسې په خپلو اعلاميو کې عموما «اسلامي ګټې» ليکلې، خو په دې وروستو کې کله ناکله «اسلامي او ملي ګټې» کاروي. لاندې به په ۱۹۵۸کې د يوې کوچنۍ موضوع په اړه د دوه کمونيست هيوادونو شوروي اتحاد او د چيـن د ولسي جمهوريت ټکر راوسپړم

**د ماوتسيتونګ او د خروسچف د حکومتونو ټکر د ګډ ريډيو سټيشن په اړه**

د جاپان اوچين په دوهمه جګړه کې (۱۹۳۷-۱۹۴۵)، شـوروي اتحاد د چيـن سره ملاتړ وکړ. دغـه مهال په شوروي کې جوزيف سټالين واکمن و. د دوهمې نړۍ والې جګړې په پاې کې ولسي چيـن د ماوتسيتونګ په مشرۍ په ۱۹۴۹ کې رامنځته شو. جوزيـف سټاليـن او ماوتسيتـونګ دواړو پـه مارکسيزم – لينينيـزم عقيده لرلـه او د طبقاتي مبارزې پالـونکي وو. خو د دواړو کمونسيتي هيوادوونـو ټکر په يـوه کوچنۍ ملي ګټـه د ماوتسيتونګ (۱۹۴۵-۱۹۷۶)اونيکيتا خـروسچف (۱۹۵۳-۱۹۶۶) د واکمنۍ په مهـال راولاړ شـو. د دواړه کمونيستي هيوادونو تر منځ ټکر په ۱۹۵۸راپورته شو: شوروي اتحاد غوښتل چې د ولسي چين په خاوره کې د اوږد موج ريډيـو سـټيشن جوړکړي چې د دواړو هيوادونو **په ګډه اداره** به چليـږي. ماوتسيتونګ ته دا پروژه د ملي حاکميت موضوع ښکاريدله. نو وړانـديـزيې وکړ چې شوروي به د دغې پروژې تمويل او تخنيکي مرستي په غاړه اخلي، اويواځې ولسي چين به دغه پروژه جوړوي او **اداره کوي**. ماوتسيتونګ د شوري اتحاد سفيـر (يودين) ته وويل:«په سياسي لحاظ نيم اينچ ناممکـن دی.... تاسي کولی شی چي ما نيشنليسټ وګڼی .... که دغسي ووايـی ، زه به درته ووايم چي تاسي روسي نيشنليزم د چيـن بحري غاړې ته ارت کړی دی.» يعني

"...I will have to say that you have expanded Russian nationalism to the Chinese seacoast."

د ملي ګټو د ژور بحث لپاره ولولی

Scott Burchill, The National Interest in International Relations Theory. Palgrave Macmillan (July 2005).

**د ملي ګټو مفکوره له کومه راغله**

ايټاليـوي تاريخپوه، سياستوال او فيلسوف نيکولو مَـکياويلي (۱۴۶۹تـر ۱۵۲۷) ويلي وو چې «مـاته له خپلې روح نـه خپل هيواد ډير ګران دی.» هغه يو دولت غوښته چې په داخل کې ټينګښت ولـري او د بهـر پـه مقابل کې له خپل شتـون نه دفاع وکړی شي. مکيـاويلي زياتوي چي تاسي لوړې اخلاقي موخې (هـدفونه) لرلی شی ، خو بې له لازم قـدرت او ارادې نه چي استعمال يې کړئ، نتيجې ته به ونه رسيږی. په دې ډول مکياويلي د ملي ګټو د مفکورې زړی وکاره. د امريکي يو نامتو ليکوال جريډ ډايمنډ و پـوښتـل شو چې د امريکي اوسني ولسمشر بارک اوباما ( ۲۰۰۹

تر اوسه) ته به د کوم کتاب د لوستلو سپارښتنه وکړي؟ هغه ورغبرگه کړه چي که نه يي وي لوستلی، د نيکولو ماکياويلي «شهزاده» نومي کتاب دي ولولي چي له نن نه نږدې ۵۰۰ کالونه وړاندې يي ليکلی و.

په مکياويلي باندې د بيلا بيلو لقبونو يا ټاپو پيرزوينه شوې ده: څوک يي «د قدرت فيلسوف» گڼي ؛ چا ته «د فساد فيلسوف» برييني (ټيچر آف اِيول)؛ څوک ورته د « رياليسټ او پراگماټيسټ»( واقعي سياستوال) په سترگه کسي؛ بل چاته «د سياست» گاليليو گاليلی (۱۵۶۴ تر ۱۶۴۲) برييني؛ يوځای بل ځای ورته د « سياسي علومو موسس» ويل شوی دی؛ او د شلمي پيړی انگريز فيلسوف بِرتراند رسَل د مکياويلي «شهزاده» نومي کتاب «د تباه کارانو لاسي کتاب»( هينډ بُک فور گينگسټرز) ته راټيټ کړی دی. ماکياويلي په خپل دغه کتاب کي واکمنانو ته وايي چي «هدف وسيله ټاکي». يعني واکمن بايد ځان په واقعي نړی کي وساتي، نه په خيالي نړئ کي! په بله وينا، هدف د قدرت ساتنه ده، خو مهمه نه ده چي د قدرت د ساتني لپاره کومه طريقه/وسيله وکارول شي! په دې ډول، مکياويلي په شپاړسمه زييزه پيړئ کي په ايټاليه کي د بيلابيلو لاس وهنو په مقابل کي د ملي گټو خوندي کولو ته د واکمن (شهزاده) پام راوگرځاوه او د خپل کتاب سرليک يي هم «شهزاده» غوره کړ.

په مکياويلي ورپسي، فرانسوي ژا بودا/ جين بودين(۱۵۳۰ تر ۱۵۹۶) لومړی مفکر و چي د «واکمنئ » يعني حاکميت موضوع يي راولاړه کړه. بودين، دين ته درناوی کاوه خو د پاچا مطلقيت يي نشو هضمولی. بودين په دې آند و چي فرنسويان دي د مذهبي تحميل او جگړې په ځای، خپل هيواد ته زياته پاملرنه وکړي. ولولی

J.U. Lewis, “Jean Bodin’s <Logic of Sovereignty>”, Political Studies, 16, 2006,pp. 206-222; Bodin on Sovereignty (Parts of Cambridge Texts in the History of Political Thought). Editor: Julian H. Franklin. 1992; Nicolai Rossin, Soveranität zwischen Macht und Recht: Prpbleme der Lehren Politischer Soveraniät in der frühen Neuzeiten am Beispiel von Machiavelli, Bodin und Hobbes. Hamburg: Kovac, 2003

د شپاړسمي زييزې پيړئ له وروستيو راهيسي د ۱۸ پيړئ د پيل پورې، په اروپا کي مطلقيت (ابسولوټيزم) بر لاسی و. د ۱۶ پيړئ په وروستيو کي ديني داخلي جگړه د کاتوليکانو او اعتراض چيانو(پروټيستانټز) په منځ کي راولاړه شوه

د اولسمي زييزې پيړئ په ورشو کي چي د منځنيو پيړيو عالمگيره روحيه (يونيورساليټي: يوه نړی واله کليسا او يو نړی وال امپراتور) غړنده شوه، نو په بين المللي اړيکيو کي د قواو د انډولتوب او د دولت په داخلي چارو کي د قواو د ويش او مشروطيت ياني د کانسټيټوشنليزم تفکر راجوَت شو. د اروپا په غاړو کي انگلستان، فرانسي او هسپانيي په داسي حال کي چي د نړی والي کليسا (يونيورسَل چرچ) يوه برخه يي جوړوله، د روم د مقدسي امپراتورئ (۹۶۲تر ۱۸۰۶) واکمني يي نه منله، او له دې امله د روم د مقدسي امپراتورئ لپاره اسانه نه وه چي خپله عالمي ادعا په يو سياسي عالمي تاړ( نظام) کي منعکسه کړي. په روم کي قوي پاپ په واقعيت کي د روم د مقد س امپراتور په پښو کي اغزی و. فرانسوي مفکر ولټير (۱۶۹۴تر۱۷۷۸) دغه امپراتوري نه مقدسه گڼله، نه رومي او نه امپراتوري. د اولسمي پيړئ د جرمن حقوقپوه ساموپل پوفندورف په اند، د روم سپيڅلي امپراتوري يو داسي شته والی و چي د بلاربتوب د شنډولو(سقط جنين) او د يوه ډيو په منځ کي تصور کيدلي شوه. ياني يوه بلا وه چي نه وه زيږيدلې. د روم مقدسه امپراتوري په دې معنی رومي وه چي: (۱) د پخواني روم سلطه يي منعکسوله، او (۲) په دې مفهوم سپيڅلي وه چي د پاپ د معنوي امپراتورئ اميل يي د خپلي خاوريني (سيکولر) امپراتورئ په غاړه کي ځوړند کړی و

د ۱۷ پیړۍ له پای نه د ۱۸ پیړۍ تر پای په اروپا کې مفکرینو په معقولیت او استدلال ټینګار وکړ، په دې ډول چې د استدلال (رِیزَن) لـه لارې انسان حقیقت ته رسیږي. عیسوي (کاتولیک) روحانیونو د روم (پاپ) اطاعت کاوه او د وګړي ازادي یې چې له استدلال نه کار واخلي روغه نه ګڼله. یعني کلیسا د انسان د فکر او عقیدې په مینځ کې پنډه کړښه راکښلې وه. د کاتولیک کلیسا له خوا د پاپ اطاعت، په واقعیت کې د ملي حاکمیت سره ټکر و. په هرڅه کې د کلیسا د مداخلو له امله عیسویت په ۱۶ پیړۍ کې په دوه څانګو وویشل شو: پخواني کاتولیکان او نوي اعتراضچیان یعني پروټیسټانټز. دغه پیښه په تاریخ کې د مذهبي «سمون» (اصلاح) په نامه یـا دیږي. مذهبي بیلتون د فکر ازادي وهڅوله او د روم سپیڅلي امپراتوري یې ولړزوله. ورو په ورو د اعتدالي کاتولیکانواواعتراضچیانو(پروټیسټانټانو)له مینځه د «سیاسیونو» (پولیټیکلز) ډلګۍ راووتلـه. د سیاسیونو په فکر، هیڅ ډول عقیده دومره اهمیت نلري چې د پرله پیسي جګړې سبب وګرځي، هر ډزبند د نوي جګړې خوراک شي، او هر ارتداد او بدعت (هیریزي) د نوي جنګ پلمه شي. د سیاسیـونوپه عقیده انسان په دولت کې ژوند کوي ، نه په کلیسا کې، او له دې امله بایـد یو داسې مـدني نظام رامینځتـه شي چې په مذهـب کې د وګړي په ازادۍ، د پاچا په اطاعت کولـو او په سوله ییـز ډول د خپل کار په اجرا کولو باندې ولاړ وي، یعني د ګډوډۍ (انارشی) په ځای د سلطنت موسسه روغه وګڼل شـوه

د فرانسي پاچا څلورم هینرۍ (۱۵۸۹تر۱۶۱۰) چې کاتولیک و، پروټیسټانټ(اعتراضچي) شو، د خپل ژوند د ساتنې لپاره بیرته کاتولیک شو، او وروسې بیرته پروټیسټانټ شو. څلورم هینري چې د دوهم ځل لپاره پروټیسټانټ شوی و، په زړه کې د سیاسیـونو پلوي و او فرانسه یې د سولې او ابادۍ په لوري وخوځوله. د څلورم هینري په غوره (کمال مطلوب/آیـډیـل) فرانسه کې باید هـر فرانسوي ته «چرګ په کنډولي» کې ورسیـږي، یعني د ښه ژوند خاوند وي. فـرانسوي سیاسي فیلـسوف ژان بودیـن (۱۵۳۰تر۱۵۹۶) لومړی مفکرو چې د حاکمیت (سَـورنـټـي) نـوې نظر یې وړاندې کړ. د بودیـن په آنـد، بایـد په هـره ټـولنه کې یـو داسې کـلـک قدرت شتـه وي چې د نورو ټـولو لپاره قـوانین وضع کړي، که ممکنـه وي د نورو په تـوافق، خو که حتمي وي په غیـر د هـغـوی لـه تـوافـق نـه. د ژان بودیـن فکر ته به د وسپنیز امیر عبدالرحمن خان خوله هم ګوړې ګوړې شوې وای، که پرې خبر شوی وای

د روم په سپیڅلي امپراتورۍ کې په ۱۶۰۰کې اعتراضچیان(پروټیسټانټز) د کاتولیکانو په کچه ګڼ شـوي وو. د روم مقدسه امپراتوري چې په لوډیز کې د فرانسي له سرحده نیولې او په ختیـز کې د هنګري او پولنډ پورې غځیدلې وه، بله څپیـره د «دیـرش کلن جنګ» (۱۶۱۸تر۱۶۴۸) له لاسه وخوړله. دیرش کلن جنګ د جرمني په خاوره بلیده: (۱) دغه جنګ د جرمنیانو داخلي جنګ و د مذهب (کاتولیک، پروټیسټانټز) په سر. (۲) دغه جنګ د جرمنیانو داخلي جنګ ود قـدرت د محدودولو لپاره (د روم سپیڅلي امپراتور د خپل قدرت بشپـړول غوښتل، او د جرمني شهزادګانو او نوابانو خپله خپلواکي). (۳) دغه جنګ بین المللي جنګ و د جرمنیانو په خاوره کې (فرانسي د هابسبورګ سره ډغرې وهلې، هسپانیې د ډچ سره، ډنمارک او سویډن د سلوانیې په هغه خوا کې لاس په ګریوان وو، او ټولو بهرنیو قدرتونو د جرمني په دننه کې د جرمـن جنګسالارانو سره لاسونه یـو کړي وو!). په دې ډول، دیـرش کلن جنګ د جرمني په ټـوټه ټـوټه کیدلو چلیده، د جرمني د سیندونو (اُودر، اِیلبې، ویزر) په خولو کې بهرني قدرتونه پلن شوي وو، او د جنګ په لمبو کې د جرمني د نفوسو تقریباً یو پر دریو (۳۳٪) وګړي له مینځه تللي وو.[ دغه سیاسي لوبه د ۱۹۷۸ د اپریل له ۲۸ (۷ ثور ۱۳۵۷) راهیسي تر دې ګړۍ پورې د افغانستان په خاوره کې چلیـږي!] – ځیـرکیار

فرانسي چې د اوه لسمې (۱۷) پیړۍ په پیل کې له اوږدو مذهبي شخړو نه ارمه شوې وه او شخصي جګړې او لښکرې یې شنډې کړې وې، له واحد او قوي جرمني نه یې ترهه لرله. د روم د مقدسې امپراتورۍ د لړزیدلو سره د

کلیسا د عالمګیرتیا نظریه ماته شوه. په دغسي وضع کي اروپايي دولتونو دیته اړتیا لرله چي د خپل ارتداد د مشروعیت او د خپلو اړیکو د تنظیمولو لپاره کوم بل اصل ته مخ راواړوي. دغه اصل د « ریزو دِ ایتا»* ( د دولت ګټي/ملي ګټي) په مفکوره کي غلی شوی دی چي د قواو د انډولتوب په معنا دی او د اوسنی زمانی په سیاسي ژبه کي ورته « ملي ګټي» یا« د ملي حفاظت ګټي» (نیشنَل سیکیوریتي اِینټریسټز) ویل کیږي

raison d' état: reason of state, state interests (national interests) *

د فرانسي واکمنانو خپلي سیاسي ګټي په دې کي لیدلي چي د پاپ د عالمګیرکاتولیسیزم په ځای د مسلمانانو (عثماني ترکانو) او د جرمني د پروټیسټنټانو سره په ډلو کي ودریږي. فرانسوي کشیش ریشیلیو چي په فرانس کي لومړی وزیر شو (۱۶۲۴تر۱۶۴۲)، په اروپا کي یې د نوي دولتي نظام بنسټ کیښود – هغه ډول دولتي نظام چي خپلي ګټي (ملي ګټي) یې له بل هر هدف نه وړاندي ګڼلي. کله چي کشیش ریشیلیو په زیږ۱۶۲۴ کي د حکومت مشرشو، د روم سپیڅلی امپراتور (د هابسبورګ** دوهم فردیناند) په دې پسي اړم شوی و چي د مذهبي سمونونو په ضد [** د هابسبورګ سلطنت په مرکزي اروپا کي یوه ګڼ ملتي پاچاهي وه، له ۱۲۷۳تر۱۹۱۸]

فعالیت (کاونټر – ریفورمیشن) پرمخ بوځي او د کلیسا عالم ګیرتیا ته یو ځل بیا لار هواره کړي. د مذهبي اصلاحاتو په ضد عملیي کي په اروپا کي دیرش کلن جنګ(۱۶۱۸ تر ۱۶۴۸) پیل شوچي په لمبو کي یې د جرمني خاوره او وګړي وسوځیدل. کاردینال(غټ مولوي) ریشیلیو د خپل کاتولیک پاچا ( دیارلسم لویي) او د خپل دولت ګټي یعني د فرانسي ګټي د روم د سپیڅلي امپراتورۍ له ګټو نه لوړې ګڼلي. غټ مولوي او لومړی وزیر ریشیلیو په خپله سیاسي سپارښتنه (پولیټیکل سټیټمینټ)کي وایي چي د دولت په چارو کي «هغه څوک چي قدرت لري ډیر ځلي حق لري»، په دې ډول باید دولت د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره خپل قدرت زیات کړي تر څو د نورو سره یې قدرت انډول شي او د نورو قدرتونو خوراک ونه ګرځي. په اروپا کي چي هرڅومره د ملي (سیاسي) دولتونو بوزغلی کرل کیده، هغومره د قدرت د انډولتوب او د ملي ګټو د تامین مفکوره پخیدله. دوهم فریدریک چي د« ستر فریدریک» په نوم هم شهرت لري او د پروسا/پرویسن (له جرمني تر غربي روسیي) پاچا و (۱۷۴۰ تر ۱۷۸۶)، د شلیزیا سیمه له اتریش نه ونیوله (شلیزیا/ شلیزین سیمه په مرکزي اروپا کي پلنه شوې وه چي اوس په غته کچه په پولینډ، یو څوبرخي یې په چیک جمهوریت او جرمني کي د اودر سیند په اوږدو کي غځیدلي دي). ستر فریدریک په خپل سیاسي تحلیل کي بین المللي اړیکي د سترنج د لوبي په شان مطرح کړل. دهغه په آند، انګلستان او فرانسه د یوبل غلیمان دي او له دې امله نوموړی کولی شي چي د خپل هدف لپاره کله د یوه او کله د بل سره ډله جوړه کړي. په عمل کي هم پروسا یو ځل د فرانسي او بل ځل د انګلستان سره ټلوالي جوړې کړې او خپل موجودیت یې خوندي کړ. په دې ډول دولتونه د خپل ژوند د تامین لپاره دیته اړ وو چي د قواو په انډولتوب کي ځانونه وساتي او د دې مخه ونیسي چي یو ستر قدرت په نورو ټولو واکمن شي.[په ۱۹۹۱ کي چي شوروي اتحاد له مینځه لاړ او امریکا یواځینی زبرځواک پاتي شو، نا انډولي را مینځته شوه او دامریکي واکمنانو په ارت لاس د نړۍ په ډیرو ساحو کي عملیات کولی شول]. د سَر ویلیم بلیکسټون «د ملتونو قانون»(لا آف نیشنز) په ځای، برتانوي فیلسوف، حقوقپوه او د ټولنیزو اصلاحاتو غوښتونکي جیریمي بینتَم لومړي ځل د «بین المللي»(اِینټرنیشنَل» ټکي راوویست او په ۱۷۸۹کي خپورشو( بین المللي حقوق). په ۱۸۰۱ کي په فرانسوي ژبه کي هم ومنل شو

ای‌نورب

د چاپ ټوول حقوق خوندي دي: ۱۹ اکتوبر ۲۰۱۵=۲۷ تله ۱۳۹۴= ۵ محرم ۱۴۳۷